RESET Training and Support

# د تجربې څخه ماهرين: رواسيا او د هغې د بيا ميشتيدنې تجربه

د راواسيا سره زموږ مرکه ولولئ - يوه حيرانونکې پيغله چې ښنګه يې د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ د خپلی کورنۍ لپاره موندلی له مونږ سره شريکوی.

ځوانۍ په جريان کې بيا ميشته کيدل د ډيرو سختو ننګونو سره ډک کيدی وی، د ملګرو له لاسه ورکول، تعليم له لاسه ورکول، او کور له لاسه ورکول. سربيره پردې، تاسو په خپل اوسني هيواد کې د نوي ژوند د پيل کولو لپاره ښکيل ياست چيرې چې تاسو ښايي داسی احساس ونه کړی چی په کور يا ملک کی ياست. دا د راواسيا تجربه وه، چې هغه وکولای شول په خپله زړورتيا او ليوالتيا سره ځانته آرامښت پيدا کړی او له دی حالته مخته ولاړه شي او هوساينه وموميد بيلګی په توګه د هغی هنری کار.

په دې مرکه کې، راوسيا پريکړه وکړه چې موږ سره د هغه سختيو تجربه شريکه کړي چې هغې د کډوال په توګه زغملې، او ښنګه يې د بيا ميشتيدنې او د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ په ملاتړ سره د دوی په وړاندې بريالي شوه.

## څه احساس موکول کله چې تاسو په سوريه کې خپل کور پريښود او عراق ته ولاړی؟

دا يو ډير لوی بدلون په څيروه، په بشپړ ډول هر څه توپير درلود، حتی ژبی هم توپير درلود مونږ. واقعيا په عراق کې په لومړۍ مياشت کې ډير توپير احساس کړ. هلته دوی کردي خبرې کولي. مونږ د عراق په عرب ميشته سيمه کی ژوند نه کول او په کرد ميشته سيمه کی اوسيدلو هلته هغوی په عربی خبری نه کولی، دا ډيره، ډيره سخته وه چې هلته له هغوی سره يوځای شو. موږ احساس کاوه چې دوی موږ نه خوښوي، موږ هلته ناغوښتل شوی ميلمانه وه.

کله چې زه هلته وم، په کردي ژبه مې خبرې ښې نه وې. ما تل هڅه وکړه چې په دې ژبه پوهه شم، مګر دا خورا ستونزمن و. ما دوه کاله د ژبې په زده کړه کې تير کړل ترڅو په ژبه ښه پوه شم، مګر دا په لومړي سر کې خورا ستونزمن و. د دوی کلتور زموږ څخه توپير درلود. د مثال په توګه، دوی ځانګړي جشنونه لري چې موږ يې نه لمانځو. دوی په خپلو جشنونو کې مختلف ډول جامې اغوندي، د هغه څه نه چې مونږ يی اغوندو ډير توپير لری.

زما زده کړی زيانمنی شوی، د عربي ژبې ښوونځي شخصي وو او موږ بايد د شامل کيدو لپاره ډيرې پيسې ورکړې وای. موږ بايد ښوونځيو ته د ترانسپورټ لپاره پيسې ورکړی وای، ځکه دا ښوونځی له هغه ځايه ډير ليرې وو چې موږ پکی اوسيدو. مګر کله چې زه په نهم ټولګي کې وم، موږ ونه شو کولای چی د ښوونځي فيس ورکړو او ما خپلی زدکړی پريښودی. يو نيم کال له ښوونځي ليرې وم، يو بل ملګري مې هم ښوونځی پرېښود، د ښوونځي پرېښودو ماته ډېر بد احساس راکړ، په کور کې مې هم زده کړه نه کوله، لامل يې دا و چې درسي کتابونه مې نه درلودل. د کتابونو لګښت خورا ګران وو او موږ يې نشو کولی چې واخلو. نو دی مجبوريت زه وهڅولم تر څو داستانونه وليکم خپلی هنری کريښی وکاږم، زما د داستان ليکنی ډول تخيلی داستانونه، د شاهزادګيو قصی او افسانی وی.

## کله چې مو په لومړی ځل واوريدل چې تاسی به په بريتانيا کی ميشت شی نو څه احساس مو کول؟

کله چې خبره شوم، د خوشحالۍ له امله مې درې ورځې خوب ونه کړ! زما په اند انګلستان د نړۍ ترټولو غوره هيواد دی. ما فکر کاوه چې زما ژوند به هلته ښنګه وي، زما کورنۍ او زه به هلته څه راتلونکی ولرو؟ زه د خپلې زده کړو په اړه خوښه وم ځکه دلته هرڅه توپير لري او دلته د پوهنتون سيستم هم توپير لري. زما لپاره تر ټولو مهمه خبره دلته امنيت دی، زه دلته ځان خوندي احساسوم، په سوريه کې زما ښوونځی بمبار شوو او په هغه بمبارۍ کې زما دوه ملګري هم وژل شول . کله چې موږ برتانيې ته ورسيدو، موږ ډير وږی او ستړي وو، کله چې دوی (د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ) موږ خپل کور ته راوستلو، ما وليدل چې په ميز باندی زمونږ لپاره خواړه چمتو شوي و او هغه خواړه سوريه يی خواړه وه. زه واقعيا نه پوهيدم چې له دوی (د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ) څخه ښنګه مننه وکړم. دوی په کور کې مثبته انرژي راکوله او موږ سره

RESET
Training and Support

يې مرسته وکړه چې مثبت پاتې شو. حتی کله چې موږ غمجن وو، دوی تل زموږ سره مرسته کوله چې مونږ ښه ووسو. دوی (د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ) د هر ناورين وروسته ماته ډاډ راکړی تر څو قوی ووسم.

## تاسی دوه کاله کيږی چی په بريتانيا کی ياست، دا دوه کاله څنګه وه؟

هغه دوه کاله چې موږ دلته وو واقعيا ښه وو. لومړۍ مياشت چې موږ دلته وه له ننګونو ډکه وه، مګر يوازې د ژبې د نه پوهيدنی خنډ له امله، خو وروسته هرڅه اسانه شول. کله چې موږ برتانيې ته راغلو، نو پلار مې له لاسه ورکړی وه، خو دې دوی (د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ) ما ته د بې پلارۍ احساس نه راکاول، چې زه سخته پسی خفه وم. دوی زموږ ملګري، زموږ کورنی، پلار، انا، نيکه ول يعنی هرڅه ول! دوی (د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ) دلته هرڅه وو.
اوس مهال، زه په يوه خيريه دوکان کې رضاکاره يم اوهمدارنګه د ماشومانو لپاره د ځوانانو په کلب کې رضاکاره يم. او ما پريکړه کړی چې رضاکارانه کار وکړم ځکه چې کله ما مرستې ته اړتيا لرله، داسې خلک وو چې ما سره يې مرسته وکړه. او زه فکر کوم چې وس زما وار دی چې د هغه خلکو سره مرسته وکړم چې اړتيا ورته لري.

## د ښووتځی نوی پيل تاسی ته څه ډول ده؟

په انګلستان کې د ښوونځي نوی پيل کول په لومړي سر کې د ژبې نه زدکړی له امله خورا ستونزمن و، خو د هغو مرستو لکه کبله چې مونږ ته راکول کيدلی او د هغو خلکو د حمايت او صميميت له وجهی خورا اسانه شول. زما ښوونکو واقعيا زما سره ډيره مرسته وکړه. هرکله چې ما مرستې ته اړتيا درلوده يا د انګليسي ژبې کارول شوي کلمه باندی نه پوهيدلم، دوی به يې تشريح کوله، په تخته به يې ليکله او د هغه کلمې په اړه به يی ما سره خبرې کولی.
ما ډير ملګري پيدا کړي دي چې زه هره ورځ ورسره خبرې کوم، هغه ملګري چې ما دلته په نهم ټولګي کې وليدل، که څه هم ما نهم ټولګي بيا تکرار کړ. او زه د ديوی ملګری سره چې يوه مياشت وروسته می پيدا کړه صميمی ملګری شوم. زه اوس مهال په 10 ټولګی کې يم، او زه خپل ځان GCSE ازموينې لپاره چمتو کوم. په لومړي سر کې دی آزموينی ما کی ډار او ويره پيدا کړی وه، مګر بيا وپوهيدم چې دا ډارونکی ندی، زه يوازې اړتيا لرم د ښوونځي د درسو وروسته وروسته اضافي ساعتونو کی مطالعه وکړم. زه د ماښام او ماخوستن په وخت کې لوستل خوښوم ځکه چې هغه وخت خاموشی وي، زه يو يا دوه ساعته مخکې له ويده کيدو څخه مطاله کوم، البته دا پدې پورې اړه لري چې زه څومره ستړی يم.
په انګلستان کې زه داسی حس کوم لکه پخپل کور کې چی يم او زه له دې هيواد سره مينه لرم ځکه چې زه اوس په محلي ژبه خبرې کوم، او کله چې تاسو په محلي ژبه (انګليسي) خبرې کولی شئ او پوهيدلی شئ دا تاسو سره ډيره مرسته کوي چې احساس وکړئ چې تاسو په خپل هيواد کې ياست او تاسو د دې هيواد سره تړاو تعلق لرئ .
دا سخته ده مګر تاسو بايد خپل ځان په مثبت ډول وهڅوئ او تاسو بايد زدکړه وکړئ، تاسو واقعيا بايد زدکړه وکړئ. که تاسو هره ورځ پنځه انګليسي کلمې زده کړئ نو ستاسو به په لومړي کال کې په انګليسی ژبی زدکړه کی خورا ښه پرمختګ وکړی. حتی کله چې وبا په لمړی ځل پيل شوه، زه په کور کې وم او ښوونځي يوازې د آنلاين ټولګيو له لارې و. نو ما به په هر درس کې دوه يا درې کلمې ليکلی. او ځکه چې زه هره ورځ په کور کې وم، نو پوهيدم چې زه سستی نه کوم او هره ورځ مطالعه کوم. او د هرې اونۍ په پای کې به می خپل درسونه تکرارول او ټولی نوټ سوی کلمی به می تکرارولی او جملې به می ورته جوړی کولی، که تاسی هم دا کار وکړئ، ستاسو د انګليسي ژبې مهارت به ډير ښه شي. زه کولی شم ووايم چې د کورونا ويروس پرمهال په کور کې پاتې کيدل زه وهڅولم چې خپل درسونه په کور کې مطالعه کړم.

RESET
Training and Support

## ستاسی د راتلونکی اهداف څه دی؟

مخکی می فکر کول چی زه باید یوه ښه جراح ډاکتره شم خو وس ۸۰ سلنه دا فکر کوم چی باید جراح ډاکتره شم او ۲۰ سلنه فکر کوم چی یوه ښه پیلوټه شم خو ښایی په اخر کی شاید تصمیم ونیسم چی یوه جراح ډاکتره شم.
زه د لیورپول، اکسفورډ یا کامبرج پوهنتون ته د تګ لیواله! خو که ریښتیا راباندی وایاست غواړم د لیورپول پوهنتون چی نزدی دی ولاړه شم.
زه ددی سیمی د تکلم لهجه ډیره خوښوم ځکه د افهام او تفهیم لپاره خورا آسانه ده، په لومړیو دریو میاشتو کې، ما ولیدل چې څنګه په لیورپول کې خلک د 'r' توري تلفظ کوي، او دوی څنګه د 'چیرته WHERE' په ځیر ټکي وایي. خو کله چې زه مانچسټر ته ولاړم، نو پوهه شوم چی پوهه شوم هلته د هغوی په لهجه پوهیدل څومره سخت دی، نو ځکه زه لیورپول ډیر خوښوم! زه واقعیا د (سکوس) لهجه خوښوم او زه غواړم د لیورپول د خلکو لهجه زدکړم.

## آیا تاسی نور څه هم لری چی مونږ سره یی شریک کړی؟

زه له هغو خلکو چی ماسره یی مرسته وکړه له دوی (د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ) څخه د زړه له تله مننه کوم. زه نه پوهیږم چې ستاسو له مرستې پرته به پر ما څه تېر شوي وای، لکه څنګه چې مې مخکې وویل، دوی (د ټولنې د سپانسرشپ ګروپ) دلته زموږ کورنۍ ده، دوی په ځانګړې توګه زموږ لپاره زمونږ پلار وو. دوی زموږ لپار ښوونکي، روزونکي او معالجین او هر څه وه.
هغه څه چې زه به په بریتانیا کې میشته نورو کورنیو ته ووایم اندیښنه مه کوئ. دا چې لومړۍ میاشت به سخته وي مګر تاسو باید ژبه زده کړئ او له هغې وروسته به تاسو ښه احساس کوئ که تاسو یوازې تعلیم  ته دوام ورکړئ.

له راواسیا څخه مننه کوو